السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# د ثواب لوی والی د مصیبت په لوی والی سره دی، او الله - تعالی - چې کله د کوم قوم سره مینه ولري، په مصیبت سره يې امتحانوي؛ نو څوک چې خوښ و د هغه لپاره رضايت دی او څوک چې ناراضه و د هغه لپاره نارضايتي ده

له انس بن مالک رضي الله عنه – څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د ثواب لوی والی د مصیبت په لوی والی سره دی، او الله - تعالی - چې کله د کوم قوم سره مینه ولري، په مصیبت سره يې امتحانوي؛ نو څوک چې خوښ و د هغه لپاره رضايت دی او څوک چې ناراضه و د هغه لپاره نارضايتي ده".
[صحيح] [ابن ماجه روايت کړی دی - ترمذی روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې حديث کې مونږ ته خبر راکوي چې که پر يو مؤمن د هغه په ځان او يا د هغه مال يا بل ډول مصيبت راشي ، نو الله تعالی به ورته د مصيبتونو اجر ورکوي که هغه صبر وکړي. څومره چې‌په مصيبتونه لوی وي او خطرونه يې زيات وي همغومره يې د الله سره اجر او ثواب زيات دي - بيا هغه - صلى الله عليه وسلم - وفرمايل - چې آفتونه د مؤمن سره د الله د مينې نښانې دي او دا چې د الله حکم او فرمان حتمي پلی کيږي خوښ او رضايت سره هغه ته پوره اجر اوچاره نشته. خو څوک چې صبر وکړي او راضي شي، الله به د هغه په ثواب ورکړي او څوک چې زړه بدی شو او د الله له حکم او تقدير څخه يې نفرت وکړ، نو الله به ورڅخه ناراضه شي او پوره جزا به ورکړي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3339

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee